**مطبوعاتي اعلاميه**

# د الازهر ستر شيخ د يهودي دولت شتون تصديقوي او د مسلمانانو پوځ د بيت المقدس او شاوخوا سيمو د ازادولو له وجيبې معافوي

**(ژباړه)**

د الازهر شيخ د ملګرو ملتونو له امنيت شورا وغوښتل چې د يوه خپلواک هېواد په توګه د فلسطين او د هغه د پلازمېنې په توګه د بيت المقدس په رسميت پېژندلو لړۍ چټکه کړي. هغه همدارنګه له اقصی جومات څخه د ملاتړ پر اړتيا ټينګار وکړ چې هره ورځ تاوتريخوالی پکې کېږي. شيخ الطيب د ۲۰۲۳م کال د جون په ۱۴مه، چهارشنه امنيت شورا ته په خطاب کې وويل؛ «ما د فلسطين د مقدساتو؛ زما او ستاسو مقدساتو په اړه خبرې وکړې. زه د ظلم او استبداد او د فلسطين د خلکو پر وړاندې د نړيوالې ټولنې د چوپتيا په اړه خپله ژوره خواشيني ښيم.» (دنيا الوطن)

د فلسطين خاوره د خراج خاوره ده چې واک يې له ټول امت سره دی؛ يوه لوېشت ځمکه يې هم بل چاته نه شو پرېښودی. دا د ټول امت وجيبه ده چې د غاصبينو له منګولو يې خلاصه کړي؛ دا د فلسطين د ګاونډيو هېوادونو وجيبه ده چې په سر کې يې مصر دی. له امنيت شورا او نړيوالې ټولنې څخه د الازهر د شيخ غوښتنې په دې معنا دي چې د يهودي دولت شتون په رسميت پېژني او د اسلامي هېوادونو پوځ د فلسطين او د هغه د مقدساتو له ازادولو معاف کوي. غربي استعماري بنسټونو، يهودي دولت په زهرو لړلي خنجر په توګه د امت په زړه کې رامنځته کړ او د امت د بياځلې وحدت مخه يې پرې ونيوله. هغوی د يهودي دولت اصلي ملاتړي دي چې د مزدورو رژيمونو په واسطه يې د امت له مستقيم قهر څخه ساتي؛ د مصر رژيم د خيانت په دغه رول کې تر نورو وړاندې دی.

د مصر خلک او پوځ د فلسطين د ازادۍ هيله لري او دا يوه مهمه او محوري موضوع ګڼي. دغه موضوع د هغوی په اسلامي عاطفو، ورورولۍ، له اسلامي عقيدې سره مينه او د اسلامی مقدساتو څخه د ساتنې غيرت کې ژوره ريښه لري؛ لکه د يوه مسلمان وينه تويول. د فلسطين ازادي د ټول اسلامي امت د پوځونو وجيبه ده؛ په ځانګړې توګه د مصر د پوځ چې د امت له ځواکمنو پوځونو دی او د جغرافيې له اړخه فلسطين ته نږدې دی. موږ ډاډه يو چې د مصر په پوځ کې ښه پرېمانه مخلصين شته چې د فلسطين ازادۍ ته تږي دي او ښه پوهيږي چې دا يې د امت، دين او ورونو پر وړاندې وجيبه ده. د دوی پر وړاندې يوازينی خنډ، حاکم رژيم دی. نو د فلسطين ازادي د

دغه رژیم په له منځه وړلو او د اسلامي دولت په تاسیس پورې تړلې چې اسلامي پوځونه نه یوازې د فلسطین، بلکې د ټولو اشغال شوو اسلامي خاورو د ازادولو لپاره بسیج کړي.

**اې د کنانه پوځ مخلصینو:** د فلسطین او د فلسطین د مظلومو خلکو ازادي ستاسو دنده ده او د دې په اړه به الله سبحانه و تعالی د قیامت په ورځ حساب درسره کوي. دغه رژیم چې تاسو د خپلې وجیبې له سرته رسولو راګرځوي، پر تاسو هېڅ واک نه لري. دغه رژیم په حقیقت کې نامشروع دی؛ د امت حاکمیت یې غصب کړی او د کفري نظام له لارې پر موږ حکومت کوي. د فلسطین د ازادۍ پر وړاندې لومړنی ګام د دغه رژیم را نسکورول دي. نو ستاسو اساسي دنده دا ده چې دغه رژیم یې له ټولو ابزارو او سمبولونو سره له بېخه ونړوئ او دولت د امت مخلصینو ته وسپارئ چې د نبوت پر منهج راشده خلافت د تاسیس او د ټول اسلام د پلي کولو وړتیا لري. دغه خلافت به نه یوازې د فلسطین، بلکې د ټولو اسلامي خاورو د آزادۍ لپاره پوځونه بسیج کړي. لویه ربه! ته دغه خلافت ژر راولې او موږ یې سرتېري او شاهدان کړې.

**﴿وَالَّذِينَ آمَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَاهَدُواْ فِي سَبِيلِ اللهِ وَالَّذِينَ آوَواْ وَّنَصَرُواْ أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقّاً لَّهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾**

**ژباړه:** *«کومو خلکو چې ایمان راووړ او د الله په لاره کې یې هجرت او جهاد وکړ، او کومو خلکو چې پناه ورکړه او نصرت یې ورکړ، له شک پرته هغوی حق مومنان دي، د هغوی لپاره بښنه او غوره رزق دی.»* [انفال - ۷۴]

**د حزب التحریر – ولایه مصر مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴هـ.ق، د ذوالقعدې ۲٦مه**

**۲۰۲۳م کال، د جون ۱۵مه**

**د صدور ګڼه: ۱۹/۱۴۴**